British Embassy
Kabul

**Press Release**

Date: 10 December 2016

---

## په کابل کې د برتانیې سفارت د بشري حقونو نړیواله ورځ ولمانځله

د ډسمبر میاشتې پر لسمه، په کابل کې د برتانیې سفارت د بشري حقونو نړیواله ورځ ولمانځله.

نن د ملګرو ملتونو د بشري حقونو نړیواله ورځ ده، چې په دا ورځ د ۱۹۴۸ زیږدیز کال د بشري حقونو د نړیوالې اعلامیې د امضاء کېدو کلیزه لمانځل کېږي.

د ۱۹۴۸ زیږدیز کال د ډسمبر پر لسمه، افغانستان، برتانیه او ۴۶ نور هیوادونه سره راغونډ شول تر څو پر داسې بشري حقونو کار وکړي چې ټول بشر او انسانان له هغه نه برخمن شي. له هماغې ورځې نه، د ډسمبر لسمه داسې یو فرصت ګڼل کېږي تر څو د بشري حقونو ارزښت او هغه رول چې په پرمخ تللي او با ثباته ټولنو کې لوبوي، څرګند کړي. سږ کال، موږ د مدني ټولنې د با ارزښته کړنو، او هغه وګړي چې د نورو د حقونو په دفاع کې ولاړ دي، ورڅخه یادونه کوو.

په افغانستان کې د برتانیې سفیر ښاغلي ډامنیک جیرمي وویل:
نن ورځ موږ د هغو زړورو وګړو هلې ځلې لمانځو کوم چې د بشري حقونو ساتنه کوي او په افغانستان او ټوله نړۍ کې بشری حقونو ته پراختیا ورکوي. په تېرو پنځلسو کلونو کې افغانستان د بشري حقونو په برخه کې په زړه پورې پرمختګ کړی، خو دا څرګنده ده چې نورې ننګونې تر اوسه پورې لا موجودې دي. د برتانیې سفارت د افغانستان حکومت او مدني ټولنې سره یو ځای کار کوي تر څو د بشري حقونو او د هغو زړه ورو څخه چې د نورو بشري حقونه ساتي، ورڅخه ملاتړ وکړي.

په کابل کې دا ورځ د برتانیې سفارت په کوربه توب د ټول افغانستان څخه د بشري حقونو مدافعینو په دعوتولو، ولمانځل شوه. دا یو ښه فرصت وو چې د هغوی دا زړور کار ولمانځل شي، او د هغوی د تجربو څخه زده کړو تر څو څرنګه په راتلونکې کې د هغوی نه په ښه توګه ملاتړ وکړو.

*For further information please contact:*

**Jenny Jones**
Mobile: +93 (0) 796666071
E-mail: jenny.jones@fco.gov.uk

**Emal Maqsood**
Mobile: +93 (0) 798 085511
E-mail: emal.maqsood@fco.gov.uk

**Below also find the links for our digital channels:**
http://www.facebook.com/ukinafghanistan
www.gov.uk/government/world/afghanistan
@UKinAfghanistan